AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاين

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۰۲/۱۴

# مینه ناکو؛ د حوض کوثر خوب چا لیدلي؟



ولي الله ملکزی

آیا مینه د زړه درد دی، که د عاطفي سیلۍ؟ د شعور ناره ده، که د فطرت کړیکه؟ د احساساتو شور دی، که د ضمیر سکون؟ د عذاب کړکۍ ده، که د ثواب دروازه؟ د طبیعت رنګ دی که د هوس زنګ؟ د وصال او فراق ترمنځ پل صراط دی، که د رواجونو په ځنځیر تړل شوې خیالي نړۍ؟ آیا مینه شوق دی، اراده ده، لیوالتیا ده که د عزم انتهاء؟ آیا مینه انعام دې، انتقام دی که د پشکال خړ سیلاب؟ د ساز آغاز دی که د کړاو انجام؟ د الهام سرچینه ده؛ که د تلقین زاره چاودې هڅه؟ آیا مینه تلوسه ده او هیجان دی، که حسرت دی، جرئت دی، برائت دی، یا جنون او لیونتوب؟
یارانو! تپوسونه ډیر دي، خو هغه د پیښوریانو په اصطلاح (ما له خو یې آډو پته نه لګي چې ځواب به یې څه وي)؟
زموږ په فولکلوریک او ولسي ادب کې چې کله د عشق، څیرې ګریوان، کچکول او ببرو څڼو خبره مطرح کیږي یا یې لولو، نو سم سیده مو لیلی مجنون، مؤمن خان شیرینۍ، یوسف خان شیر بانو او د شکسپیر د ناول، رومیو او جولیت افسانوي نومونه سترګو ته نیغ ودریږي. البته که مینه د رندانو او زاهدانو د معرفت او بیدارۍ څپه وي؛ بیا نو په غړیدلو سترګو ګورو چې مینه غیبي اور او د زړه ټکور دی. که زما په خبره شکمن یاست، نو راځئ چې د رحمان بابا له خپلې خولې څخه یې واورو:

**چې د خدای له معرفته خبر نه وي – هغه واړه که بیدار دي، هم ویده دي**

صفا سوتره خبره خو همدا ده چې د حُب «مینې» کلمه ۷۶ ځلې په قرانکریم کې یاده شوی او پیغمبر (ص) د انسان زړه، د مینې مرکز بولي او فرمایي: { اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ - سړی به له هغه چا سره حشر کیږي چې مینه ورسره لري}. عشق او محبت دواړه عربي الفاظ دي، مګر توپیر یې دا دې چې له عشق سره جنسي غریزه مل وي او محبت معنوي اړخ لري؛ لکه د خالق تعالی، مور پلار او له وطن سره مینه. د مینې پیل د سترګو له رپ سره تړلې او انجام یې ډیر کله نامرادي او د زړه ماتیدل وي؛ خو چې په وصال ختمه شي هلته بیا هر لورې دلبر او دلبري وي. ارواه پوهان وايي: که مینه کول عذاب دی، نو له مینې څخه محرومیت بیا سوچه مرګ دی. دائرة المعارف لیکي: د مینې لوی لامل د حُسن کرشمه، د شخصیت اغیز او د طبیعت رنګونه دي چې شعور تخنوي.
مشهور څیړونکی، سلمان ابوصالح د میینانو د ورځې د نمانځنې په اړه وايي: ستونزه زموږ په فهم او برداشت کې ده چې عقیده او کلتور په یوه تله تلو. رومي راهب، ولنټاین خو په ۲۷۰ میلادي کال کې په دې تور ووژل شو چې د امپراتور د حکم په خلاف یې کلیسا کې پټې نکاح ګانې تړلې ترڅو ځوانان د عسکري خدمت څخه بچ شي. نو د یو پادري زړورتیا او بغاوت زموږ له عقیدې سره څه تړاو لري. د یو منلي واقعیت په توګه، د ولنټاین ورځ د لویدیځې نړۍ کلتور او د ګټې وټې یوه پلمه ده چې په دې ورځ د ملیاردونو ډالرو سود سودا کیږي. ولی موږ ډیر ناشنا مخلوق یو؛ ډالر، د ټایټینک فلم، آیفون، برګر او پپسي مو خوښیږي، خو د مینې ورځ اونیکټایي راته صلیب ښکاري. د جومات په لومړي صف کې ناست سپین ږیري مو غرب ته ښیراوې کوي چې: یا الله ته یې تباه کړې، خو په وروستي صف کې ناست د دوئ اولادونه دعاګانې کوي چې په خیر مو ور ورسوه.
عزیزانو! (څوک چې خوب کوي، میښې یې نر کټې زیږوي) شکر دی چې د خوبونو سیزن له خیره تیر شو. چا د آدم (ع) سره په ټلیپون کې خبرې وکړې، چا ته د حوض کوثر سندونه حواله شول او ځینو ته حضرت پیغمبر صیب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په خپلو مبارکو لاسونو پګړۍ وتړلې او جنډې يې ورله ورکړې. مګر ښه خبره دا ده چې هيڅ چا فرغون، نمرود او ابوجهل په خوب کې ونه ليدل. زه نن سهار وختي د کافي/ قهوې دکان ته ننوتم، دروازه يې په سرو پلاستيکي ګلابو کې پټه وه، هره خوا سرې پوکنۍ وې، کاريګرو سرې خولۍ په سر کړې وې، پيالې سرې وې او چاکليټونه هم تک سره وو. په مخامخ ديوال ليکل شوي وو: «Love Is Life - مينه ژوند دی». نو ماته بې اختياره خپل مينه ناک ځوانان را په زړه شول؛ مال لټه يې وکم چې ستاسې پلو ته د سرو ګلابو او رنګينو خوبونو څه خبر مبر شته کنه؟

نور مو سر نه خوږوم؛ که دې همدې ديوال همدغه خبره، د کاڼي کرښه وګڼو چې مينه د زغم، منني او پخلاينې انعکاس دی؛ نو يقينا چې ژوند به مو ډير ښکلی او سپيڅلی شي. او لا به ډيره غوره وي که موږ هريو، د زړه په ايلبند کې د مينې کيږدۍ هسکه او د کرکې تغر ورڅخه ټول کړو؛ ترڅو د ژوند له خوږو خوند واخلو او حوض کوثر ته لاره ومومو. ربه ! ته مې زاړه ايمان ته خير کړې.

---

يادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې ليکنې او څيړنې د هغه په فيسبوک او يوټيوب چينل کې ولولي او وګوري. ادرس يې دا دی: Wali Malakzay



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ